مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لطیف یاد ۲۰۲۳/۰۸/۲۶

# تصوف، د کړلیچونو سفر او ملکزی




[ د خوښۍ زېرې !! د افغان جرمن آنلاین اداره او د قاموس کبیر افغانستان لیکواله ډله په خوښۍ سره خپلو درنو لوستونکو ته زېرې ورکوي، چې زموږ د همیشني قلمي همکار او دوست، ښاغلي ولي الله ملکزي پنځم کتاب چاپ شو. دا کتاب چې (تصوف؛ روحانیت او کړلیچونه) نومېږي، ۲۱۴ مخونه لري او په علمي او اکاډمیک میتود سره لیکل شوېدی .باور لرو چې لوستل به یې د تصوف د نړۍ او د هغه له پیچلو مفاهیمو سره د لازیاتې پېژندنې او روښنایي لامل وګرځي. دلته د کتاب لپاره د منلي څېړونکي او تکړه لیکوال، ډاکټر لطیف یاد له خوا کاږل شوې سریزه ستاسې خدمت ته وړاندې کیږي .محترم ملکزي صاحب ته د مبارکۍ ترڅنګ د لازیاتې بریا هیله کوو .]

افغان جرمن آنلاین
********************

تصوف یا صوفیزم د لوی خدای سره د انسان د مستقیم تړاو او د نړۍ د مادي خواهشاتو او غوښتنو سره د پریکون وسیله ګڼله کیږي. تصوف داسې ډول ریاضت دی چې د کشف او شهود له لارې، د الله تعالی د پېژندلو او د هغه ذات ته د رسېدلو او نږدې کېدلو لپاره تر سره کیږي. رښتیني صوفي د دغې لارې لاروی دی او د عرفاني سلوک په مرسته کولای شي خپل نفس له بدیو پاک او هغه حقیقت ته ځان ورسوي چې دی یې په هڅه کې دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

سترو نومياليو صوفيانو او د حق د لارې سالكينو په خپلو روحاني كمالاتو سره د لرغونو زمانو نه زموږ تر وخته پورې د تصوف ډيوې بلې ساتلې او د وختونو په تېريدو سره ستر شخصيتونه په كې راميڅ ته شوي دي. په دغو صوفيانو، عارفانو او د حق د لارې په لارويانو كې يې ځينې حتى د نړيوال شهرت درلودونكي دي. زموږ په ګران هېواد افغانستان كې هم ستر صوفيان تير شوي دي چې په هغو كې د مولانا جلال الدين محمد بلخي، خواجه عبدالله انصاري او حكيم سنايي غزنوي نومونه د ځانګړي شهرت نه برخمند دي.

همدا راز په پښتنو صوفيانو كې د شيخ متي بابا، پير روښان، ميرزا خان انصاري، رحمان بابا، حنان باركزي، حافظ الپوري او حمزه بابا نومونه د يادولو وړ دي. دوئ نه يوازې صوفيان او عارفان تير شوي دي بلكې د پښتو ادب بڼ يې هم په خپلو صوفيانه اشعارو سره رنګين كړی او ځانګړې ښكلا يې ورته ښنلې ده. زموږ په هيواد كې همدا اوس د چشتيه، قادريه او نقشبنديه عرفاني طريقو د پيروانو شمېر ډير زيات دی؛ دوئ خپلې خانقاوې او د ذكر حلقې هم لري.

د ډير وياړ او خوشالۍ ځای دی چې په تصوف كې د لومړي ځل لپاره زموږ د هېواد تكړه ليكوال او څيړونكي، ښاغلي ولي الله ملكزي صاحب چې تر دې د مخه يې هم نور ډيرعلمي كتابونه او مقالې په پښتو ژبې ليكلي دي او پر څو بهرنيو ژبو بشپړ برلاسی لري. دا دی اوس يې د (تصوف، روحانيت او كړليچونه) په نامه جامع، هر اړخيزه او پنډ كتاب ليكلی او تازه له چاپه راوتلي دی. كه څه هم موږ په پښتو ژبه كې د تصوف اړوند ډير كتابونه نه لرو او كه لرو يې هم، نو دومره هر اړخيزه او شامل نه دي ليكل شوي لكه څومره چې په دې كتاب كې يې بشپړ تفصيلات راغلي دي.

ښاغلي ملكزي صاحب د تصوف په اړه د معتبرو انګريزي، عربي، پښتو، فارسي او اردو آثارو او منابعو تر لوستلو وروسته موږ ته يو داسې په زړه پورې كتاب ليكلی او را ډالۍ كړی دی چې نه يوازې موږ او تاسو د تصوف د تعريف او پيدايښت د لاملونو سره آشنا كوي، بلكې د ده په كتاب كې داسې جالبه مطالب هم شته چې موږ ته د تصوف بېلا بېل اړخونه هم راپيژني؛ د بېلګې په توګه: تصوف د صوفيانو له نظره، د تصوف تدريجي پړاوونه، د تصوف ځانګړي اصطلاحات، د تصوف مقامونه، په تصوف كې د پير او مرشد درجې او رتبې، له فسلفې سره د تصوف توپير، په اسلامي نړۍ كې د تصوف ګڼ شمير ډلې او همدا راز د سترو عرفاني شخصيتونو او څيرو پيژندنه او ژوند ليكونه.

## د دې كتاب ارزښت:

ما دا علمي او تحقيقي اثر سر تر پايه ولوست او دې پايلې ته ورسېدلم چې:

۱. دا كتاب په پښتو ژبه كې لومړنی اثر دی چې د تصوف بېلا بېل اړخونه په كې څېړل شوي دي.
۲. كتاب په روانه او خوږه پښتو ليكل شوی دی، عبارتونه يې پيچلې نه دي او لوستونكی يې له لوستلو خوند اخلي.
۳. په دې اثر كې له مهمو او معتبرو آثارو او كتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده.
۴. د دې كتاب په ليكلو كې د علمي – تحقيقي منل شوي څيړندود او مېتودولوجی نه كار اخيستل شوی دی.

په پای كې فاضل شخصيت، ښاغلي ولي الله ملكزي صاحب ته د دې ارزښتناك اثر د ليكلو او چاپ ته د سپارلو مباركي وايم او له لويه خدايه ورته د پښتو ژبې په چوپړ كې د لا زياتو برياوو هيله كوم.

په ډېر ادب او درناښت
د پرت ښار - لوېديزه آستراليا
د ۲۰۲۳ زيږديز كال د جون د ميا شتې ۱۷ نېټه

**************************

يادونه: كه لوستونكي وخت او علاقه لري، كولای شي د ملكزي نورې ليكنې او څيړنې د هغه په فيسبوک او يوتيوب چينل كې ولولي او وګوري.
ادرس يې دا دی: Wali Malakzay

په افغان جرمن آنلاين كى د ښاغلی ولی الله ملكزی آرشيف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پاز والي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ